د جهاد هنداره

لومړی کال، شپږمه گڼه ، ۱۳٦۹ د عقرب (۱)

د مجاهدینو مشران د یوه نوی متحد قوت په جوړیدو خبری کوی

پېښور دتلی (۲۸):

د مجاهدینو یا خبری سرچینو ویلی په دی وروستیو کی دمجاهدینو د مشرانو تر منځ د جهادی اداری د توحید ،دگډی استراتیژی د دولودلو او د عملیاتو پراختیا او هم آهنگی په رابطه گڼوری خبری شوی .

په خبرونو کی ویل شویدی چی په دغو خبروکی په جهادي مشرانو سربیره الحاج مولوی جلال الدین "حقانی " او احمد شاه مسعود هم برخه لرله دغونډی دیوه گډونکوکی په وینا چی ددې غونډو احندا د عبوری حکومت دتشکیلاتو

پاتی په (۸) مخ

دافغانستان د جهاد دقوماندانانو د شوری

گڼه اعلامیه

(٦) مخ

الحاج مولوی جلال الدین حقانی د قوماندانانو په مطبوعاتي کنفرانس کي :

د قوماندانانو شورا د هیواد د ټولو جهادی قوتونو د یو والی او د شورا د سر تاسري کیدو په لار کی یو مهم گام ؤ چی په نتیجه کی یی د افغانستان د شرق - غرب - شمال او جنوب تر منځ د اتصال کړی ټینگه شوه .

(۷) مخ



PROPERTY OF ACKU

دجهاد اداره او پدی رابطه د هر دول تصمیم نیول په افغان مجاهد ولس پوری اړه لري افغانان هیڅ بهرنی هیواد او قوت ته د لاسوهنی او فشار راوستلو حق نه ورکوی

په خوست کی د دښمن دوه بار وړونکی الوتکی له مینځه یوړل شوی

میرانشاد د تلی (۲٦):

د خوست ښار بردواړه(نوی — او پخوانی) هوائي دگروتو او د دښمن پر امنیتی پو سو دمجاهدینو درانه عملیات روان دی.

د تومړی ولسوالی څخه په را رسیدلو خبرونو کی ویل شوی چی دمولوی صاحب جلال الدین — "حقانی " تر قیادت لاندې د سلمان فارسی عبد مجاهدینو د روان کال د تلی میاشتی په (۲٦) نیټه د خوست ښار سوي، هوائی ډگر د لری ویشتونکو توغندیو تر برید لاندی ونیو چی دهغی له امله ددښمن یوه باروړونکی الوتکه له منځه یوړل شوه.

خبر زیاتوی :مجاهدینو په تومړی، نیټه د خوست ښار پخوانی هوائی

پاتی په (۸) مخ

فتح یازده پوسته رژیم درقلعه نو

مجاهدین در عملیاتیکه بتاریخ ۲۲میزان بر پوسته های رژیم واقع اطراف قلعه نو مرکز ولایت بادغیس براه انداختند ضمن فتح یازده پوسته سه صدملیشای مسلح رژیم را اسیر و صد تن دیگر شانرا به هلاکت رسانیده اند.

در خبریکه ازطرف میدیاازانس حکومت مؤقت اسلامی افغانستان درین رابطه انتشار یافته علاوه شده است که مجاهدین همچنان دوصد هشتاد پنج

بقیه در صفحه (۸)

د مصر پارلمان منحل شو

قاهره دتلی (۲۸):

د مصر پارلمان د راتلې ورکونکو په اکثریت سره منحل اعلان شو.

د مصر له مرکز څخه یوه الـو خبر ی سرچینو رپوټ ورکړی چی د پارلمان د ړنگیدولپاره انتخابات ترهغی وروسته چی عالی محکمی د اوسنی پارلمان تشکیل غیرقانونی

پاتی په (۸) مخ

د زابل د مرکز قلات ارتباط په بشپړه توگه قطع شویدی

په رارسیدلو خبرونو کی ویـر شویدی چی د زابل ولایت دمرکز قلات ښار ارتباط په بشپړه توگه قطع شوی اوپه ښاردرانـدد عملیات روان دی.

د اسیوشیتدپریس د رپوټ لـد

(۸)مخ

د مشل عون (۱۰۰) تنه پوځیان اعدام شول

بیروت تلی (۲۷):

په بیروت کی د مشل عـون، له طرفدارپوځیانو څخه (۱۰۰)تنه اعدام شول .

د تومړی سمی څخه یوه الـو خبری سرچینو رپوټ ورکړی چی هغوی د هغې بښتي په تور چی

پاتی په (۸) مخ

سرمقاله

دوحدت له پاره نوی حرکتونه او امیدونه

کلـه چی روسی پوځونو پر افغانستان تیری وکړ هیچا دا فکر نه کاوه چی گڼی داسې وخت به هم راشي چی روسی پوځونه له افغانستان څخه ویستل شی،خو وشول ددی برعکس.له لس کلني خونړۍ جگړې وروسته روسان دې ته مجبور شول چې له افغانستان څخه ووځي خو کله چی د روسی پوځونو د وتلو وخت را ورسید بیانو هیچا دا فکر نه کاوه چی دروسانو گوډاگی رژیم به زیات دوام وکولی شی،خو داسی ونه شول.آخر هغه کوم لاملونه وؤ چی د نجیب د گوډاگي رژیم د بشپړ

پاتی په (٦) مخ

امریکا په خلیج کي د خپلو الوتکو په ټیټو پروازونو بندیز ولگاوه

واشنگتن د تلی(۲۷):

د امریکا هوائي قوا وپه خلیج کی د دوی د زیاتو الوتکو بر لـه منځه تللو وروسته د خپلو الوتکو پر ټیټو پروازونو باندی بندیز لگولی.

په واشنگتن کی د امریکاددفاع وزارت یوه ویندوی ویلی :په سعودی عربستان کي د امریکا د هوائي قواو مشر "جنرال چارلس هارنر ویلي چی د تربیتی پروگرامونو پـر بنسټ باید الوتکی د(۳۰۵) مترو څخه ټیټ پرواز ونه کړی،ویل کیږی تردی وخته پوری امریکائي پیلوټانو (٤٥) مترو په ارتفاع کی پروازونه کول .

دمجاهدینو د بری لنډه لار دجهاد پراختیا ، دسنگرونو پیاوړتیا او د ټولو جهادی قوتونو بشپړ یو والی دی.

الحاج مولوی جلال الدین حقاني

داسلامي نړۍ پرخلاف دنړیوال کفر پراخ سازشونه

نن سباکه دنړۍ جمعي خبري وسایلوته غوږ ونیسو نو له بده مرغه یوازې پر اسلامي نړۍ به اوریل وونو ، یوازې مسلمان هیوادونه دي چي د ظلم ، وحشت او بربریت په پټۍ کي سوځیږي ، او یوازې اسلامي نړۍ ده چي د غیر انساني ظلم او جبر نوي نوي تجربې وریاندې تر سره کیږي .

له یوي خوا متعصب برهمني پنډتان په کشمیر کي د آزادۍ غوښتونکو مسلمانانو پر مړیږ په دي ګناه دجبر چاړه راکشوي چي ولي له خپل مسلم حق او فطري غوښتنی نه لاس نه اخلي له بلې خوا دهند په پراخه سیمو کي هم د دیموکراسۍ او سوله ایز سیاست ! تر شعار لاندې د مسلمانانو د قتل او عزت دلو ټولو لو به ګرمه ساتلې ده .

په سریلانکا کي د تامیلیانو ګوزار د مسلمان او بیا تش لاس مظلوم مسلمان پر سردی او په فلسطین او برما کي هم.د افغانستان د مؤمن او مجاهد ملت د ذلیلولو او ایلولو لپاره هم نړیوالي استکبار له دغه مؤمن ملت سره ددښمنی ګډ سنګر نیولی او په فلسطین او لبنان کي هم،داروپایه وچه کي لوی لوی بدلونونه راځي او همدغه بدلونونه د سترو شیطاني ځواکونو په خوښه او ګډ پلان رامنځ ته کیږي ، هیڅ ډول

پرابلمونه او جنجال نه راولاړیږي ، همدارنګه یو ستر شیطاني پکټ پاش پاش شو واکداران یي د عمرونو ملاتړ او متعهد له لاسه ورکوي او داټول په سړه سینه زغمي،خو دهمدغه پکټ له سرکښۍ نه کوم اسلامي ریاست خپل نیمګړی آرمان او نیمه خپلواکي نشي تر لاسه کولی او سمدستي یي ددې هیلي د ترسره کیدو په ځای د ټانګونو او توپونو په مرمیو استقبال کیږي .

دنړۍ په هر ګوټ کي چي اوریل دی د مسلمان پر کوربل دی ، چي دویر او ماتم تغر خور دي د مسلمان په کاله کي خوردی .

هر لوري ته داسلامي امت بدن ټوکر ټوکر دي ، د استکبار تر برچو لاندې دی او د ماتم او ویر وریځي وریاندې دغم بارانونه اوروي ، دالویه له افغانستان څخه تر منځنی ختیځه او بیا د نړۍ تر ګوټ ګوټ روانه ده .

که دې وضعې ته لږ په ځیر وګورو او له ورایه د مخبر صادق علیه السلام د قول تصدیق کوي چي کفر ټول یو ملت دی او د اسلامي امت دښمنان دي. داسلامي نړۍ اوسنی جنجالونه ، ربړې او بدمرغیږ کوم تصادفي کارنه دي او له ورایه یي تر شاد لویو شیطاني طاقتونو ناوړه عزایم ، شوم پلانونه او سپیره نیتونه ښکاري ، او همدا توراو سور ښکیلا ککر یا په عمومي ډول د لویدیځ او ختیځ کفار دي چي په

اسلامي نړۍ کي یي د کلونو کلونو راپه دې خوا داسې ستو نزې او کشالې رامنځ ته کړې چي اسلامي هیوادونه له اوسنیږ بد مرغی سره لاس ګریوان دي .

په تیره لسیزه کي د روس دوحشي استکباری ځواك په وړاندې د اسلامي نړۍ نوم ورکې هیواد «افغانستان» د مجاهد ولس ځوانمردانه مقاومت او اتلوال جهاد په ټوله نړۍ کي او په ځانګړې ډول په اسلامي نړۍ کي د

سرراپورته کړ ، غرض داچي په ټوله نړۍ کی دمسلمانانو په زړونوکي دامید او دطاغوت له منګولونه دآزادۍ هیلي راوښي شوي .

خودکفرسترجنګي ماشین ، پرمختللي تکنالوژي ، په مکر ، فریب اوتزویرکي دتعجب ترسرحده پرمختګ دیوي خوا اوپر اسلامي نړۍ کي روان اختلافونه پراسلامي هیوادونو زیاتره تپل شوي غلامانه

> اوس تربل هروخت زیات دي ته ضرورت دی چي دجهادي قیادتونو ترمنځ دوروروليږ اوپیوستون لپاره کاروشي ، په ګډه دخپل ملت دقربانی له ثمرنه ساتنه اودفاع وشي ،

خپلواکي غوښتونکو او اسلامي غورځنګونو په لیکو کی دامید ، برې او ژوند ساه پوه کړه ، دغه جهاد د برې په درشل ودریداو وړانګی یي له کشمیر نه نیولی تر وارسا پورې په ټوله نړۍ خوری شوي ، په فلسطین کي داسلامي غورځنګونو په مړوایروکي یوځل بیادپاڅون سپرمغي وځلیدل اودانتفاضه تحریك دیهودي اشغالګر انو پرخلاف ددغه توریالي ولس په تنظیم اوقومانده کي

قیادتونه اوبی دریغه وروسته پاتي والي له بل خوا دوه هغه سترعوامل ګڼلی شو چي خدای (ج) مه کړه بیرته دیوه نوي جهانشمول اسلامي غورځنګ دراپورته کیدواوپه نړیواله سطحه اسلامي نړیې دیوه ځواك په څیر درابرسیره کیدوپه وړاندې زموږ په هیلو اواسرودنا امیدي خاوری اړولي شي.

په دي وروستو وختونوکي دعراق له خوادکویټ اشغال اوهغه بیادخپلي

پردېس

خاوري جز اعلانول اوبیاد امریکا په مشرۍ دښکیلاکګرو هیوادونو له خوا سعودي عربستان ته دپوځي قواؤ لیږل، دفارس په خلیج ، عمان اوسعودي کي په زرګونو امریکایي انګلیسي اوفرانسوي پوځونو اډې اومورچل بندي هغه پېښې دي چي اسلامي نړیې ته له بدمرغیږ پرته نورڅه سوغات نه شي ورکولي اوبیا دردوونکي لا داچي اسلامي هیوداونو پخپله ځان ته دغه بدمرغي زیږولي اونوروته یي د مداخلي اولاسوهني زمینه په لاس ورکړې ده. همدارنګه دهنداوکابل دمزدوررژیم ترمنځ دربدره اوداختلاف په اور ستي افغانان اودلویو طاقتونو په لاس له تهدید ونو سره مخپاکستان هم کیداي شي د زبرځواکونو په څونامانوسواشاروترکوم ناځوانمردانه تیري اوبرغل لاندې راشي چي بیابه داسلامي نړي پرټټونو یوبل ناسورزخم ور زیاتیږي ، نوزموږ جهادي قیادت ته په کار دي چي داسلامي نړي دروانو ستونځو په رڼا کي دخپل با شهامته ملت دیونیم ملیوني قافلې شهیدانو دوینو او قربانیږ په احترام دملت اوجهاد ستر هدفونه دخپلو ځاني ګټو اونفسي غوښتنو قرباني نه کړي .

اوس تربل هروخت زیات دي ته ضرورت دي چي دجهادي قیادتونو ترمنځ دوروروليږ اوپیوستون لپاره کاروشي ، په ګډه دخپل ملت دقرباني له ثمرنه ساتنه اودفاع وشي، دپردیو دمداخلي لاسونه ورلنډ شي ، که زموږ ملت دتیرو دیارلسوکلونو دجهادثمره ترلاسه کړاي شوه په افغانستان کي اسلامي حکومت جوړشو اوزموږ دمؤمنو اومظلومو شهیدانو دزړونو نیمه خواآرمان ترسره شونویقیني ده چي داسلامي نړیږ له نورو برخونه به هم ورو ورو داستکباراوښکیلاك ناوړه تغرتولیږي، له فلسطین نه ترکشمیره به ټول اسلامي امت دنړیوال کفر له منګولو خلاصون مومي اودابه زموږ دبرمیال ملت دجهادي قیادت ستراوتاریخي افتخاروی خودي ستر افتخاراوویاړته درسیدوترټولو ستر اومهم شرط پوره اوواقعی یووالي دي.خدای (ج) دي زموږ مجاهدملت اوجهادي قیادت ته دغه سترهدف ته درسیدوتوفیق ورپه برخه کړي «آمین »

دشهید فیصل دریځ :

دغرب په وړاندې دټینګار لومړنی درس

نعمین - سبین

سعودي حکومت چي به دې لنډه موده کی د خپل پریکنده دریځ په برکت په ګرده نړۍاو په تیره بیا په اسلامی اوعربي نړۍ کی کوم محبوبیت او ګرانښت ګټلی و، هغه ددغه حکومت د چلند یو یو پرځای او روا حق ګڼل شو . په بله وینا ، داد حجاز د هستیدونکیو دهماغه قاطعیت یو تسلسل باله شو چي د اسلام سپیڅلي دین پری لور ولی و. هو!

سعودي حکامو خو د خپل پریکنده دریځ او قاطعیت په برکت د چا خبره د ګڼامت بلا تنازع سیادت او مشرتوب تر لاسه کړای شوی و.

شاه فیصل شهید به یی مثال واخلو، دغه اروا ښاد چی د اسلام د تیر بوم دکتهنی په لار کی د خومره لیونی مینی مظاهره کوله، هغی دا په ډاګه ښوده چی نوموړی به په دې لار کی بله هیڅ راز قربانی او سرښندنی نه هم

دوه ونکړی. چی همداسی وهم شول. اود اسلام دغه سر تیر سپاهی بالاخره هم پر اسلام سرکیښود.

په دې وروستیوکی خو د اسلامی نړۍ دوه دولتی مشران داسی وو. چی ځای د «زنده باد» او «مرده باد» له ګا روسوه دخدمت روبی خپل آرمان اوهدف ته له پاره ملاوی تړلی وی. دغه ښاغلي یو شاه فیصل شهید او بل جنرال ضیاء الحق

شهید دی، خو تو پیر دومره دی چی د فیصل شهید قاطعیت تر ضیاء شهید هم یو څه زیات محسوس او ډاګیزو. ضیاء شهید که به دسیاست له لاری خپله خبره هیرول غوښتل. نو فیصل شهید د سیاست او دیپلومیسی ترڅنګ ځان د اسلام له د ښمنانو له ټکرڅخه هم نه غړاوه.

د ۱۹۷۳ کال د روژی جنګ په موده

کی چی فیصل شهید د اسلام د دښمنانو په وړاندې د تیلو وسلی ته هم لاس واچاوه او د غرب صنعت یی پری په کلکه و کواښه. دا پرخپل ځای یو ستر او ارښتناك کاروه، چی یوازی له فیصل غوندی سخت دریځی مسلمان واکمن څخه یی د کیدو تمه کیدای شوه اوبس.

غرب چی دغه مهال له دی درکه له څومره ستونزو سره لاس په ګریوان شو، پوښتنه یی مکړه، خو چاره څه وه ؟ د فیصل شهید غوندی له کرك او قاطع شخصیت سره یی مخه وه. او څکه خو یی له خپل ټول جنګی جنون او سازو سامان سره سره هم د دغه اتل شخصیت په وړاندې د سترګو برګولو جرآت ونکړای شو. لکه چی ښکاره ده، دا د ایران د اسلامی انقلاب تربری د مخه د غرب په وړاندې د اسلامی نړۍ د یوه تنکیالی مقاومت او ټینګار لومړنی

پاتې په (۷) مخ

روسیه از حمایت فلسطینی ها دست کشید

س تازه

رهبران رژیم کمونستی روسیه بخاطردستیابی به منافع ناجایز خویش در منطقه وجهان شعارفریبنده (صلح ،دوستی،وبرابری) راعنوان نموده اند تابتوانندکشورها ومردمان را بااین کلمات فریب داده در دام استثمار بیرحمانه خویش گیر آورند،

تاقبل از شکسته شدن طلسم کمونیزم روسی در کوره داغ جهاد افغانستان کتله عظیمی از مردمان جهان وشماری از کشورهابااین شعار فریبنده حکمروایان مسکو فریفته شده ودر دام کمونستها گیرمانده بودند اما ملت قهرمان افغان با پاره نمودن کمونیزم از گلو تا پا،تمام آن بیهودگی را افشانمود که برای مردم جهان در رابطه به کمونیزم سخت باعظمت وبزرگ می نمود .

یکی از تاکتیك های شیطانی وطاغوتی حکمداران کمونست کرملین بحیث سردمداران سیستم کمونستی این بوده است که بانیرو وکشورهای که بخاطرخواست واعاده حقوق بر حق شان باغاصبین وکشورهای، استعمار گر در محادله[بودند] باشیاد ی زیاد جانب نیروهای برحق رامیگرفت تا ازیکطرف خودرا طرفداروجانبدار حق وانمودسازد واز جانب دیگر زمینه نفوز را در آینده برای خویش مساعدسازند.

منطقه شرقمیانه هم بحیث منطقه غنی وستراتیژیك جهان وهم بحیث یکی از مناطق پر تشنج جهان و بخصوص فلسطینی ها بحیث مردمان رنجیده که توسط یهودیهای اسرائیلی از خانه وکشور شان محروم شده اند مورد توجه رهبران مکار کمونستی کرملین بوده اندتابانشان دادن همدردی وهمنوایی ظاهری با قضیه فلسطین واحقاق حقوق حقه فلسطینی ها خود را کاذبانه از داعیان حقوق بشر واعراب به خصوص فلسطینی ها جابزنند .

فلسطینی ها از انجایکه امریکا را در کنار دشمن شان اسرائیل میدیدند لذا با باور به کلمات، فریبنده ودروغین به کردارسیاسی روسها دل بستند که در نتیجه نه تنها حاصلی بدست شان نیامد بلکه امروز روسها بااجرای پلان کوچ یهودهای روسی به فلسطین اشغالی درجناح ضد فلسطینی ها قرار، گرفتند.

طبق اطلاعات مطبوعات جهان روسها بخاطرکسب امتیازات تجارتی از امریکا موافقه نمودند تاکوچ یهودیها از روسیه به اسرائیل به پیمانه وسیع صورت گیرد که ممکن است این کوچ تا سال ۱۹۹۲ به بیش ازیك ملیون نفربرسد

> **درسازش جدید سیاسی که میان روسیه وامریکا صورت گرفته است روسها در منطقه شرقمیانه به اهداف وخواستهای امریکا سر- تسلیم فرود آوردند وممکن است امریکا نیز در عوض این برد دریکی از مناطق متشنج جهان میدان رابه روس ها واگذارد.**

اسرائیل یهودی های روسیه را در مناطق اشغالی اعراب با اعمار منازل مسکونی می سازد و این امر تشویش فلسطینی ها وکشورهای عرب همسایه فلسطین اشغالی را - فراهم می سازد زیراباساکن ساختن یهودیها ریشه های خود را در اراضی اشغالی تمدیدنموده باین ترتیب از استرداداین سرزمین هادرازای یك حل سیاسی به کشور های عرب خودداری نموده وبه تلاش مزبوحانه خود بخاطرایجاد اسرائیل بزرگ ادامه خواهدداد .

ممانعت از کوچ یهودیهای، روسیه به اسرائیل یکی از آن مواردی بود که روس ها آنرانمونه ازفداکاری بخاطردفاع از حقوق فلسطینی ها وکشورهای عرب عنوان می‌نمودند اما بالاخره این حق خواهی رادر برابر صرف یك امتیاز تجارتی ارزان فروختند .

روس ها همیشه باموازنه منافع شان دوستان تکتیکی وستراتیژیکی خودرا تنها گذاشته‌اند بخصوص درین اواخرکه به قیمت نزدیکی به امریکا کشورهای زیادی را قربان کرده است

شدت ووسعت پیمانه کوچ یهودیها از روسیه به اسرائیل به کشور های منطقه وفلسطینی‌ها به‌یك منبع قابل تشویش مبدل شده است تاآن حد که یکی از محققین امریکایی یکی از عوامل حمله صدام برکویت را همین امر نیز دانسته است زیرا با افزایش نفوس یهودیهای دولت، نام نهاد اسرائیل فلسطینی ها ی داخل فلسطین اشغالی را به کشور های همسایه عرب رانده نفوس خورا صد درصد یهودي خواهد ساخت

اکنون معلوم میشود کههمدري ، مکارانه رهبران کرملین بافلسطینی‌ها واعراب بخاطر تقرب به منابع و پطرول شرقمیانه بوده است وهمین دخایر طلای سیاه بودکه چشم‌طماع رهبران روس را تاریك ساخته بودو میخواستند تحت اسم رسم‌طرفداری از حقاق حقوق فلسطنی ها وکشور های عرب،خود را به انها نزدیك بسازد . اکنون که با حضور نظامی امریکا این ارزوی روسهابه پاس‌مبدل شد د دیگر ضروتی نه می بینند تا گامی در جهت منافع فلسطینی ها واعراب بردارندکه از سرگیر ی کوچ بزرك یهودی ها از روسیه به اسرائیل نمایان گراین حقیقت می باشد .

درسازش جدیدسیاسی که میا ن روسیه وامریکا صورت گرفته است روسها در منطقه شرقمیانه به اهداف وخواستهای امریکا سر تسلیم فرود آورده ندوممکن است امریکا نیزدر عوض این برد دریکی از مناطق متشنج جهان میدان را به روس‌ها واگذارد.

بردامریکا در شرقمیانه نه تنها از نگاه ذخایرنفتی برای امریکاارزش حیاتی داردبلکه امریکا در تقویه اسرائیل نیز دست ازاد خواهدداشت،

له مسکو څخه کابل ته هوایی پل جوړ شوی

چی کابل یی له مسکو سره نښلولی دی

مشهور لیکوال انتونی هایمن دافغانستان داقتصاد په رابطه یو تحقیقی مضمون لیکلی چی دلته یی ځنی برخی رانقلوو .

انتونی هایمن لیکی : له مسکو څخه کابل ته یو هوایی پل جوړ شوی چی کابل یی له مسکو سره وصل کړیدی او هره ورځ له (۳۰) څخه زیاتی په وسلو او غذایی موادو بار الوتکی دکابل په هوایی ډگر کوزیږی نو موړی زیاتوی: یو فرانسوی چی څه موده مخکی کابل ته تللی ؤ لیکی چی: په کابل کی داقتصادی ژوند د چلولو له پاره خلك دوی لاری په مخکی لری لومړی داچی باید په پوځ او ملیشه کی شامل شی او یا هم دخاد په څانگوکی کارکړی تر څو لوړ معاش ورته وټاکل شی

> **په کابل کی داقتصادی ژوند د چلولو له پاره خلك دوی لاری په مخکی لری؛ لومړی دا چی باید په پوځ او ملیشه کی شامل شی او یا هم دخاد په څانگوکی کاروکړی ترڅو لوړ معاش ورته وټاکل شی**

او یا هم دتجارت لار خپله کړی او په قاچاقی توگه د مالونو د وړلو راوړلو کار په مخکی بوځی . نو موړی فرانسوی وایی چی داکار هم له خطر، تاوان او مشکلاتو څخه خالی ندی کله هم چی لوی لاری دمجاهدینو له خوا وتړل شی او یا د جنگ له امله په لویو لارو باندی تگ راتگ بند شی نو داکار بیا ناشونی وگرځی او بله داچی ددی له پاره چی همیشه لویی لاری د جنگ ترگواښ لاندی وی زیاتره کسان دسر او مال له خطرونو سره مخامخ کیږی .

انتونی هایمن لیکی : دکابل گمرك چی پخوائی دورځی په ملیونونو ډالر عایدات درلودل اوس تش پروت دی،ځکه هغه اندازه مالونه چی ورروسته دمالیی لەتادییی پاکستان او ایران ته په پټه وړل کیدل اوس دلارو دبندیدو له امله کابل ته نه واردیږی .

هایمن زیاتوی: که د روسانو مرسته دکابل له رژیم سره نه وی نو د کابل حکومت نشی کولی چی جنگ ته دوام ورکړی پدی اوسینو وختونو د نجیب رژیم له پاره دجگړی مصارف دکال له دو وزرو ملیونو ډالرو اوړی اوښکاره خبره ده چی دروسانو له مرستی پرته د نجیب رژیم ددا ډول مصارفو وس نلری.اوس حالات داپه ډاگه کوی چی نور دروسانو له پاره هم د داډول ملاماتوونکی بار اوچتول له امکان څخه وتلی کار دی،ځکه روسان خپله له داسی اقتصادی مشکلاتو سره مخامخ دی چی مجبور دی دهغی له لاسه دامریکا غیږی ته پنا یوسی .

جهادي ادب

قدرمنو ليکوالو!

دجهاد هنداری ! اداره په دی خاطرچی توانيدلی وی په ادبی سنگر کی اسلامی انقلاب ته دخدمت مصدر وگرځی په نظر کی لری خپلو لوستو- نکوته په هره گڼه کی«جهادي ادب » تر نامه لاندی لنډی کيسی ، اشعار ، ادبی ټوټی او دولسی ادب په باب مطالب خپاره کړی په دی توگه له تاسو څخه هيله کوو چی په دی برخه کي زمونږ څخه خپله همکاری ونه سپموئ او دخپلو ښکلو اشعارو ، لنډو کيسو او ادبی ټوټو په رالیږلو سره دی صفحی ته لاښايست ورو بښئ

«اداره »

لنډۍ

وه کی دخوست په معرکو څخه تېری
جهانګ لاسونه په دعا نيولی دينه

***

داسماعيل شهيد په ښکلو سرو
کابل د ناشو ملحدانو په ماتی ځينه

***

نجيبه او سرکه ندوی پټ نه
پوب د حق زور در ته معلوم په خپله ښه

***

شهيده څومره بخښور يې
په وينو رنگ کميس دی حور دی پاکوينه

***

پاینګه پایه خدای دی واخله
دنا همزولی ښپی سنگری تېروینه

ټولوونکی
محمد هاشم رحيمي

نوره د زوی پوښتنه مه کوه

لنډه کيسه

«صديقی»

د «کور کمان» په شان ئی رنګ زیړ ـړی ؤ . تل به په چرتونو کی ډوبه ښکاریده . له چا سره خبرو خوند نه ورکاوه ، د خلکو خبری به بیخی بدی وربانده لګیدی ، داسی سودائی شوی وه چی په انګړ کی به ګرده تاویده ، که څه هم چی جسماً په کورکی ؤ خو روح ئي په بلی دنیا کی دغمونو سره منګولی لګولی وی په لس ، دولس ګامونوکي به ئي حتما یو ، دوه تیندکه خوړل ، بیخی په ځان نه پوهیده یوه بله خوا به ئي لاسونه غورځول او د ځان سره به ئي خبری کولی ، او چي کله به یی غمونو د خپلو حدودو تیری وکړ . کوټی ته به ئي رامنډه کړه او داکبر عکس په لیدو به ئي ځان ټکوراوه ، په دی ورځ ئي هم کری ورځ ژړلی وو ، آخر د زړه د تسکین لپاره کوټی ته راننوته ، د اکبر عکس ته مخا مخ ودریده ، په سترګو کی بیا او ښکی راوخوټیدی ، لاس ئي وراوږدکړ . عکس ئي راکوز کړ او سینی پوری جوخت ونیوه : ؤه د زړه ټکوره ! . . . چی ته به چیرته وی . . . . . کاش یوځل مي لیدلی وی !! . .

پاتی په (۵) مخ

دا د انقلاب ادب ، دا د انقلاب شعر !

فضل ولي ناګار

دا یو تعهد یو رسالت په زمـز موکړلو
دا خلیلع ننګ کړمه نغمه د سرولمبوکړلو
پولی یې کړلې ورانې انساني او جهاني شولو
ځلی شو د سوبو ، ابدي جاوید اني شولو

ماتي یې کړې کړې د روایت دتخلیق ستې شوه
داغوټې د ګلوده په رنګ اوو بزموینه شوه
اچوي کمند یو رته په ستورو د آسمان باندې
غورځوي نظر تري لاوریو رته په یزدان ج باندې

دا د بل وطن دې خو د دې وطن خبري کړي
راز سکوندي ، اسرار سکوندي تکړې و هیستري کړي
دا یې واکه نه دی ، دا ځدي ء کله بېباکه ده
تانګي یې په ځمکه رسیدلي ترافلاکه ده

دا انساني هیلي د هدف په لوري بون غواړي
شکل د جذباتو ته د لوړمرام مضمون غواړي
دا بغاوت دی ، خو یې مهاره سرایله نه دی
دا د نو نیت غږ ، خو میخانو کې لا چپله نه دی

دا سرغړاوی مه ګڼه ټېر و تېر و تی یـې
ته چې د افاق له یورجلونو رایې یو تې یې
تلیا نې اقبال شه د جبرئیل ع په بال سفر وکه
مات د ځانځانۍ بُت که لږ سیل د لروبر وکه

لوی جهاني هنګامي ستا د پاڅون سوری دی
نشي چې ګمراه ، تا کلی ستا د خوځښت لوري دی
ته د دغي ستړې قربانۍ ثبه او خوله شه بیا
ګرم تسلسل د دې بدري مزله دیله شه بیا

زړه د تیارو ، وچوه تتاب د مستقبل راښکه
غشي دې مرام کړه لینده ، توندره دغزل راښکه
خدای ج مه کـه تاریخ ته هم ولس لره محکوم نشي
مونږ ته خو معلوم یې چي راتلونکو ته معدوم نشي

ولسي ادب په ورانګوکي

زه په جهادي سنګرکې هر وخت خوشحاله یمه
زه د حق لېوال یمه

دا د مېړونو سنګر
دا د تورياليو سنګر
دا دازمرو سنګر
لوی عظیم شوکت لري خبري پرجلال یمـه
زه د حق لېوال یمه
کران دی له هر څه په ما
ورځ وي او که شپه په ما
غږوي که میره په ما
ښتې دعـ عزت پکې نور یې مینه وال یمه
زه د حق لېوال یمه

خاوره که یې ګرځونه دي
دښتو کي منزلونه دي
خوب که یې شوګیرونه دي
و پر بېحده ، خوند لري اګاه یې زه په حال یمه
زه د حق لېوال یمه

څوک چي په سنګر اوسي
کافر لره سپر اوسي
ژوندمرګ یې بهتر اوسي
د پاک د سول وینا ده زه ناشرد ده په قال یمه

چاچي یې غوري کړې
زه د حق لېوال یمه
تل یې غلامي کـړې
بل ته یې سر ټیټی کړې
حلیم ـ به تل سنګر ساتي په نښتن زه دبلال یمه
زه د حق لېوال یمه
زه د حق لېوال یمه

حیات الله حلیم

جهادی فولکلور

وائي چی یوه ورځ یوخلقی صاحب منصب دیوه میوه خرڅونکی مخی ته ودرید او تری وی پوښتل : وروره ! مڼی کیلو په څودی ؟ میوه خرڅونکی ځواب ورکړ : پنځه ویشت افغانی . . . .

صاحب منصب په غصه شو ا و په قهرجنه لهجه ئی ورته وویل : ولی دومره ګرانی دی ؟!

میوه خرڅونکی په تنده لهجه ځواب ورکړ : ضابط صیب ! دا خاوره نه ده چی وړیا ئی چاته ورکړم .

لویه خدایه !

حنيف

لـويه خدايه ! دزړه صدق اوصفـا را
توان د نیکو ، ګرېز له بدو په دنیا را
چي داستا رضا پو بنلی په کې نه وي
الهی له داسې کـړو څخه پنا را

*

ته کريم يې ، ته رحيم يې ، ته رحمن يې
ته قادر يې ته محيط په ټول جهان يې
بريالی مو کړې په دې سترامتحان کې
ګوبنده د هر طاغوت او هر شيطان يې

*

افغانان سره یو موټی یو قوت کړې
ميهمن يې په يووالي په وحدت کړې
«حنيف » ته به دا مراوي غوټۍ ګل شي
که توانمن يې په اخلاص او صداقت کړې

• څوك چی بد بختی نه پيژنی د سعادت په ساتلو اوخو نده نه پوهيږی ،

• دهغه چا په حال افسوس دی چی خپل ټول ارمانونه تر سره شوی ووينی

ډاډ

تکل | شغيقی

مونږ ټن د هغه شهید فاتحې ته روان وو چې پخوا یې دری تور دروڼه هم په دې لاره تللي وو .

هغه پلار ته د تسلي په نیت خو- ځیدلي وو چې ټن یې پر ځیګر د زامنو د بیلتون څلورم غشی ښښتی ؤ ، مونږ ته داسي ښکاریده لکه له دې کاله نه چې د څلورو ځوانو جنازې په بوږ وحت کي راوړي ،

مونږ د هغې بوډۍ مور دردمن زړه ته د صبر بندونه تړل غوښتل چې سره سیلاب یې څلورم ځل پر مورکو خړې څپې وراړولې وي . مو ځکه زمونږ په ښښو کې دم نه ؤ او نه پوهیدو چې څه ووړ د دغه پلار ، مور او یو درجن یتیمانو او کونډو پر بی پایه دردونو او دردمنو زړونو د صبر او تسل پټې کیږدو . آخر مونږ په کومه خوله ورته ووایو چې صبر وکړی ، مه ژاړی ، خدای (ج) دې اجر در کړي . . .

ځکه چې مونږ د هغوی په یاد په خپله هم د صبر او تسل نه وو .

آخر انسـان . انسـان وی . عاطفه لری رحـم لری . درد احسـاسوی . او بیـا دومره لوی درد او ستر ماتم خو یی انسانی عواطف او احساسات د وېر په څپو کی د اباسین په څیر توپانی کوي چی قابو کول یی له توانه لری خبره وی .

مونږ هم انسانان وو ، او بیا د بوډا پلار او بوډۍ مور څلور واړه زلمی زامن زمونږ د توری ښکړی او د میړانی بازوګان هم وو .

مونږ همغسی روان وو خو پر ماعزو مو دروند ماتم د څپـی په څیر منګولی ښښی کړی وی . کلی ته ورسیدو ، مونږ ویـل اوس به د کلی بنیادمان څه چی ولاړ دختمو دیوالونه به هم ژاړی او د بوډا پلار په غم به شریـک وی خو د کلاګانو ختمونو

پاتی په (٦) مخ

نوره د زوی . . .

عکس ئي ځان ته مخامخ وینوه او څوځلی ښکل کړ :

جار دی شم ! .... خدای دی راته وساته!!

غوښتل ئي بیا عکس سینی پوری جوخت کړی چي دروازه وټکیده، عکس ئی بیرته زوړند کړ او په منډه یی دروازی ته ځان ورساوه دروازه ئي خلاصه کړه او میلمه ئي بی پوښتنی وجیری (حجری) ته راننیوست ، تا به وی چی ورته الهام شوی وی چی دا میلمه داکبره راغلی ، د لنډی چوپتیا ورسته میلمه تری وپوښتل :

تروری ! کور کي بلکل خیریت دی؟ .... د اکبر زوی ښه دی ؟! دی میلمه کي سترگی ښخی کړی . ښه ورته ځیره شوه ، سترگو کې اوښکی راغلی، د اکبر غم بیا پری غلبه وکړه ، دروازه خلاصه شوه د اکبر کشر ورور «محمد» راننوت ، ترور غبږ وروسته میلمه بیا د خبرو وار په لاس کی واخیست :

تروری! ... زه د اکبر نه راغلی یم .... او د خبری سره جوخت ئي جوب ته لاس کړ :

هغه ما ته دوه ، دوه نیمی میاشتی وړاندی دتشناب په کاغذ کي یو لیك ولیکه او تاکید ئي راباندی وکړ چی دا به موږ کره رسوی.

د اکبر مور د میلمه خواته ځان ورنږدلی کړ : او ښکی پاکی کړی او د میلمه څخه ئي وغوښتل چی لیك راته ولولی ، که څه هم چی میلمه زیات اسرار وکړ چی تروری بل څوك به ئي درته ووائی .... خو د اکبر مور ونه منله ، هغه لیك په لاس کي سم کړ :

زړه ته رانږدی مورجانی، زما د تنکسو ملگریه وروره. او زما د خوشحالی او غم شریکی میرمنی . دمینی گیډی ، گیډی سلامونه می ومنی ، خدای مو روغ ، رمټ او د ژوند په ټولو چاروکی سرلوړی لره.

دعا راته کوه، ما خو به دی نیمگړی نړی کی ستا خدمت ونشوکړی زه در ته پړیم ، ما ستا سرتور سر دعاگانی او زما د خوشحالی لپاره خپیبله منډی رامنډی د جیل په دی تورو کوټنوکی ژړو ی ماوبښه ، ما خو تا ته ددی پرته چی ستا پریوه غم می بل غم وراضافه کړی بل څه نه دی کړی.

مورجانی! دعا راته کوه که خدائی مي خلاص کړی او یو وار بیا تا سره دکور پرغالی دزړه خوا له وکړم.

د اکبر مور د سترگو اوښکی څاڅولی او سلگی وهلی - میلمه دلیك لوستلو ته دوام ورکړ.

او زما د تنکسو او منډو را منډو وروره! تاته هم د بخښنی ځولی غوړوم، ما خو ته دځوانی لومړی پیچوی کې د نړی او ژوند غمونو ته یواځی پریښودی خو لکه چی وائی « د هغی بلا چی خلاصی نه وی دوه ځلی غیړوورکوه» گوره چی بی همته نشی، د ژوند ټولو ستونزوته په مړانه مټه ورکړه. چا ته سترگی ټیټی نکړی ، پلار دی ډیر په مړانه ژوند کړی ؤ کوښښ وکړه چی نوم ئي هسك وساتی.

او زما د غمونو د ټکور ولو خوږی میرمنی!

نپوهیږم په کومو ټکو له تا څخه بخښنه وغواړم ، ما خو تر لنډی مودی پوری هم په خوشحالی کي ستا ملگرتیا ونشوه کړای ، دا به د خدای خوښه ؤه چی ته یی زما دغم ملگری به نصیب کړی - گرانی میرمنی : پام کړه دغم او ښکی ونه څاڅوی ، د جمشید خیال به زیات ساتی..

زما د هیلو څوکو! نورمو په خدای سپارم دعا راته کوی.

د لیك په خلاصیدو سره هری خواکوکی او فریادونه پیل شول په وجیره کی د غم فضأ خوره شوه ، داکبر مور دلیك د لوستلو په دوران کی د باران دڅاڅکو په شان او ښکی څاڅولی. خو د لیك په خلاصیدو سره ئي داسی کوکی پیل کړی چی ځمکی او آسمان ورسره وژړل ، د اکبر کشر ورور په ځمکه ، ځمکه ځان واهه، د میلمه او مور خواته به ئې خړی ، خړی سترگی واړولی او بیا به ئې د مور سره کو کی بدرگه کړی، داکبر میرمن د حیأ څخه وجیری ته نشوه راننوتی خو د وجیری دورسی تر شنګ ئي سلگی وهلی ، میلمه د ویر او ماتم په دی فضأ کی ځان قابو نشو کړای . د اوښکو پر سیلاب ورگیشو . څادر ئي سترگوته ونیوه او په اوښکو ډکو سترگو ئې تری رخصت واخیست اکبر ډیر باغیرته ځوان ؤ ، دځنار د ونی په شان دنگه ونه ئې وه ، نوی پر مخ ږیری آثار ښکاره شوی ؤه چی پلار ئې په حق ورسید او دکور دښه او بدو بار دده پر اوږه شو ، خو ده داسی کارته ډیره وهلی ؤه چی چاته ئې د محتاجی لاس وراوږد نکړ په کلی کی داسی د خلکو په خوله کی لویدلی ؤ چی په هره وجیره او چوتره کی به دده د ښو اخلاقو صفت روان ؤ ، خو لائي د پلار غم نه ؤ ختم شوی چی دده د نیول کیدوغم ئی پر کور خور شو.

د اکبر مور او کشری ورور ډیری منډی رامنډی وکړی خو د اکبر درك ئي معلوم نشو کړی او پنځه شپږ میاشتی په ژړا تیری کړی ، په دی ورځ هم کله چی میلمه د دوی له کوره رخصت شو دوی کری ورځ په ژړا تیره کړه ، څوك نه ؤ چی دوی ته تسلی ورکړی ، دغم سیلی ددوی پرکور راخوره ؤه هری خواته ویر ؤ او فریاد ، داسی ښکاریده چی آسمان هم غواړی د دوی سره په غم کې ځان شریك کړی ، سپینو وریځو ورو ، ورو په آسمان کی حرکت وکړ او میده ، میده باران پیل شو .

هغوی کری ورځ همداسی په کوکو او ژړا تیره کړه ، نه په غرمه پوه شول ، نه په ماخوستن ، او دشپی په سرکي د اوښکو ډکی سترگی په خوب ویده شول ، د اکبر مور یوه ، دوه ساعته خوب نه ؤکړی چی دا غم څپه پری غالبه شوه ، د اکبر چرتونو د ځان سره دغم په سیند لاهوکړه ، هغه په همدی چرتونو کي ډوبه ؤه چی چرگانو بانگونه پیل کړل ، سهار وختی ئی دپلچر خی په لور حرکت وکړ د جیل په دروازه ئی دپایوازانو په کتار کی ودریده ، هر عسکر به ئي چی ولید ورمنډه به ئې کړه.

گرانه! ... زوی می ئي .... د مور په ځای دی یم .... دا پر زه خو درسره واخله ..... او د اکبر احوال راوړه.......

ځینو عسکرو به پرزه زرته وغورځوله او تری تیر به شول، چا به د لیونی گمان پری وکړ او یوه نیم به د زړه سولی نه پرزه او کالی تری واخیستل ، هر عسکر به چی د بندیانو خیرن کالی راوړل دی به ورمنډه کړه خو د یوه دلاسه ئې هم د خپل د زړه تگور کالی ونه لیدل ، هر عسکر به چی ددی کالی او پرزه و ړی ؤه بیرته به چی راستون شو کالی به ئې ورکړل او ورته ؤ به ئي ویل :

تروری! .... ستا بندی خو نه ؤ ..... خو وروستی عسکر چی راغی کالی ئي ورکړل او ورو شانی ورته وویل :

تروری! نوره د زوی پوښتنه مه کوه !!

د افغانستان د جهاد د قوماندانانو د شورى

ګډه اعلاميه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وکفی والسلام علی عباده الذین اصطفی

اما بعد:

په دې وروستيو وختو کې (۱۳۶۹ هـ ش د ميزان په ۱۷ نېټه) د جهاد قوماندانانو د سراسري شورا د کميسيون ګډه غونډه په داسې حال کې چې الحاج مولوي جلال الدين حقاني، انجنير احمد شاه مسعود، جنرال سيد محمد حسن (سيد جګرن)، قاري بابا، عبدالحق، ملا ملنګ، خليفه عبدالواحد، محمد امين وردګ، محمد انور، بلال نيرم، تورن نظري او يوشمېر نورو ستروجهادي شخصيتونو پکې برخه درلوده د بدخشان ولايت په توپخانه کې په يوې آزاده د وروري، خلوص او صميميت نه ډکې فضاء کې جوړه شوه.

په دغه غونډه کې د جهاد د قوماندانانو د مخکېنيو دوو شوراګانو د تصميمونو او پرېکړو په رڼا کې د جهاد په اوسني پړاو د حالاتو د غوښتنو او اوضاع هراړخيزه څېړنه وشوه او د شورا د اهدافو او پرېکړو د عملي کولو په برخه کې بشپړ توافق ته ورسېدل.

د دغو غونډو په ترڅ کې چې څلور ورځې يې دوام درلود لاندېني تصميمونه ونيول شول:

۱- د نظامي فعاليتونو په برخه کې د يوې واحدې ستراتيژۍ ټاکل او پر يو وخت د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د منظمو او منسجمو عملياتو پيل کول.

۲- ټول هېواد په (۹) اداري حوزو وېشل او د هرې حوزې لپاره د علماؤ، قوماندانانو او قومي مشرانو څخه د يوتن مسؤول ټاکل.

۳- د مجاهدينو تر کنټرول او اداري لاندې سيمو کې د امنيت د تأمين په خاطر د يو منظم اداري سيستم تشکيل او د مجاهدينو د اکمالاتي لارو مصؤنيت.

۴- د قوماندانانو د سراسري شورى د فعاليتونو د پرمختګ او همآهنګ کولو په منظور د يوې ګډې نمايندګۍ او اداري تشکيل.

۵- د روسانو مزدوراو ګوډاګي رژيم ته اعلانوو چې په هېواد کې د وېنې تويولو او د مملکت د لا ړنګېدلو په خاطر له (۱۲) کلنې جګړې، ظلم او زور زياتي څخه وروسته دې سياسي قدرت د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته پرېږدي، په داسې حال کې چې مزدور رژيم زموږ د مسلمان ملت د دغه ستر آرمان ته غاړه کېنږدي زموږ وسله وال جهاد به د دغه لاسپوڅي رژيم تر راسکورېدلو او د يو اسلامي حکومت تر قيام پورې ادامه ولري.

۶- د مزدور رژيم هغه افراد چې له عمومي عفو څخه په استفادې سره له مجاهدينو سره يوځای کېږي، ځان او مال به يې په امن وي.

«والسلام»

ډاډ...

ديوالونو د وير او ژړا په ځای زموږ په سترګو کې يو ډول برم درلود. لکه چې موږ ته راښيي چې زموږ تر شا داسې ځوانان لوېدلي او رژل شوي چې پر خپلو قربانيو د اصحابانو د وخت يادونه تازه کوي. داسې ښکاريده لکه موږ چې په کوم ډېر تاريخي زاړه موزيم کې ګرځو او د خپلو ننګياليو غازيانو نېکونو د ژوند کارنامې ګورو، او بيا موږ په يوه ګوښه کې د يوې زړې ددوازې په مخه کې ايسار شوو، لږه شېبه وروسته يو وچ کلک ډنګر بوډا زموږ مخې ته ولاړ ؤ، په خوله يې نرۍ موسکاوه خو دريانه بلکې د زړه له تل نه، دويار او خوښۍ موسکا. موږ غږ نه کړ چې د بوډا په ليدو به د خپل زړه د غم بوج په چيغو چيغو د هغه په مخ کې تش وو خو د هغه د تندي ځلا او د شونډو موسکا زموږ د زړه په ځوښ لکه يخې او به داسې وه. زموږ مخې ته د څلورو ځوانيمرګو زلميانو بوډا پلار ولاړ ؤ، خو په داسې خوښۍ لکه موږ چې فاتحې ته نه د زوی د واده مبارکۍ ته ورغلي وو، د هغه په څېره کې هسې ډاډ ؤ لکه زامن يې چې همدا اوس د جنت په باغيچو کې د حورو په مجلس کې ګوري. زموږ په تسليت ناخاپه د هغه په تندي کې د خوښۍ رڼا ورکه شوه د خوشبينۍ او داسې ليکي بېکې وغځېدې لکه موږ چې د هغه د زوی په ګټلي وياړ او نعمت خپه وو، موږ د يوه کمزوري او خوار بدن په منځ کې تر پولادو کلک زړه او په هغه زړه کې د هندوکش تر غره او ګرېکونو لوی هوډ، کلکه اراده او قوي ايمان وليدل، چې د ماتم وير او غم سمندر يې ټول بېرته په شا تمبول او د خپل مقصد په لار کې تر لويو نه لويو توپانونو ته يې اوږه ورکړې وه. د بوډا ډاډمنې څېرې موږ ته داسې ډاډ راکړ لکه د هغه څلورو واړه زامن چې روغ رمټ وي او لکه چې په دنيا د وير او ماتم نوم نه وي.

پوسته های امنیتی ولسوالی بگرامی تحت ضربات مجاهدین قرار گرفت

مجاهدین بتاریخ ۲۲ میزان با استفاده از سلاح های ثقیل بالای پوسته های حکری و ملنگ مربوط ولسوالی بگرامی عملیات تهاجمی اجرا نمودند که در نتیجه ۲۵ تن از عساکر و ملیشه های رژیم کابل به هلاکت رسیده و عده دیگر مجروح گردیده است.

در خبر اضافه شده که در دوران این نبرد به مجاهدین کدام خساره وارد نگردیده.

****

د وحدت لپاره نوې حرکتونه...

سقوط په مخه کې يې خنډونه را منځ ته کړل. او د مجاهدينو غوڅ بريالیتوب يې له خنډ سره مخامخ کړ.

په دې رابطه يو خبره هم د روس او امريکا د توطئو او سازشونو ده چې دواړه زبر ځواکه د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي او آزاد حکومت د ټينګېدو مخالف دي. د مهاجرينو د کوربه هيواد د سياسي بدلونونو او کړکيچونو خبرې به هم تر يوه حده په دې اړه داسې تاثير پرې ايښې وي چې څه مشکلات راولاړ کړي. خو اصلي خبره داده چې د روسي پوځونو له ايستلو سره دې ته سخت ضرورت و، چې مجاهدين په يوه متحد سازمان او سياسي نظام کې را غونډ شي داسې نظام چې له يوې خوا د جګړې جريان په متحده توګه رهبري کړي او له بلې خوا د نجيب له سقوط وروسته د هيواد د نظم او نسق چلول تر سره کړي. د همدغه ضرورتونو له مخې د مجاهدينو عبوري حکومت جوړ شو خو حقيقت دادی چې ددغه حکومت مؤثريت لا له هماغه لومړۍ ورځې څخه د سوالو ړؤ.

او په هماغه وخت کې ډېر داسې تصفيه طلب مسايل لاينحله پاتې شول چې په دغو مواردو کې يې حل ته خورا ضرورت و. او بيا ددغه حکومت د چلولو له پاره داسې لارې چارې غوره کړې شوې چې نه يوازې داچې د حکومت د ټينګښت له پاره مؤثرې نه وې بلکې حکومت يې خپله د بحران خواته ټېل واهه او کوم تعهدات چې ددغه حکومت د اعلانېدو پر وخت شوي و، هغه له يوې مخې له پامه وغورځول شول او حکومت يوازې په پېښور کې تر دفترونو او ماموريتونو پورې محدود او محصور وګرځول شو. وزارتونو داسې بڼه غوره کړه لکه چې د مربوطه تنظيم کومه کميته او يا اداره وي. که ضرورت و، که نه، که د کار ساحه ورته مساعده وه او که نه، خو مقررۍ، د دفترونو نيول او مصارف په خورا زور کې روان وو. په اداروکې ټاکنې د تنظيمي ملحوظاتو له مخې تر سره شوې. داسې کوم مستقل قوت يا شورا نه وه چې د وزارتونو او حکومت د کارونو څارنه او مراقبت وکړي او حکومت هغه ته مسئوليت ولري. لنډه داچې له حکومت څخه د تنظيمونو په ګټه او بقا کې کار واخيستل شو. تر ټولو مهمه داچې د صلاحيتونو د تفکيک مسئله په تېره د جمهور رئيس او صدراعظم تر منځ د صلاحيتونو د وېش په رابطه هيڅ ډول قانوني مصوبه موجوده نه وه. په دې توګه وړو وړو خبره دې ته ورسېدله چې خپله د حکومت مشر د خپلې بې وسۍ اعلان وکړي.

موږ له دې مخکې هم د اتحادونو د ټينګېدو او انحلال ډېرې ترخې تجربې لرو. ډېر اتحادونه او تعهدات وشول سوګندونه وخوړل شول خو نتيجه بيا هم داسې شوه چې په آخر کې به اتحاد ونه منحل شول او يو يو تنظيم به ترې پاتې شو. کله چې خبره له ائتلافونو او اتحادونو څخه حکومتونو ته را ورسېدله بيا هم هماغه خرک دی او هماغه درک.

آخر څنګه موږ همېشه تېرې ترخې تجربې تکرارو او څنګه هره طرحه د ناکاميو سره مخامخ کېږي. هغه کوم علتونه او مسايل دي چې موږ د يوه ځواکمن او متحد جريان جوړېدو ته نه پرېږدي.

اوس چې يوځل بيا د مجاهدينو تر منځ د يوه متحد قوت په جوړېدو خبرې رواني دي او د همدې متحد جريان لپاره د قوماندانانو د شورا غونډه هم فعاليت کوي په کار ده چې هغه کمزورې نيمګړتياوې او علتونه په ژوره توګه وڅېړل شي چې مخکنې اتحادونه او حکومتونه يې له بحران او شکست سره مخامخ کړيدي.

وروستي هلې ځلې ځکه امید بښونکې دي چې په دغو غونډوکې د مجاهدينو ستر قوماندانان هم برخه لري.

په وروستيو خپرو شويو خبرونو کې ويل شوي دي چې په دغو غونډوکې د مجاهدينو مشران په دې متفق شوي دي چې د عبوري حکومت په رابطه د ځينو ترميمونو او تعديلاتو په راوستلو سره به حکومت کې يو نوی قوت او مؤثريت پيدا کړي.

د قوماندانانو شورا د هیواد د ټولو جهادی قوتونو یو والی او د شورا د سر تاسري کیدو په لار کی یو مهم ګام و چی په نتیجه کي یې د افغانستان د شرق - غرب - شمال او جنوب تر منځ د اتصال کړی تینګه شوه

د ۱۳۶۹ هـ ش کال د میزان د میاشتی په (۲٤) (.۱۹۹۰ کال د اکتوبر په ۱٦) نیټه د ماسپښین په دری بجو په پیښورکي د افغانستان د جهاد د قوماندانانو یو مطبوعاتی کنفرانس جوړ شوي و چي په هغه کي داخلی ، بهرنیو او محلی خبریالانو برخه اخیستي وه .

په پیل کي د جهادی قوماندانانو په نمایندګۍ الحاج مولانا جلال الدین حقانی د قوماندانانو د شوری لنډه تاریخچه بیان کړه .

حقانی صاحب د خپلو خبروپه ترڅ کي وویل :

دغه شوری د قوماندانانو د شوری د سرتاسری کیدولپاره یو مهم ګام وُ چي په نتیجه کيږېد افغانستان د شرق - عرب او شمال او جنوب ترمینځ اتصال کړۍ ټینګه شوه .

نوموړي د خپلې وینا په یوې برخه کي دې ټکي ته اشاره وکړه چي اوس په دغه شورا کي د افغانستان سنی او شعیه او هر ژبنی واحد نماینده او غړی موجودی .

حقاني صاحب زیاته کړه :

دیوي واحدی ستراتیژي جوړول د قوماندانانو ستر هدف دی .په دی توګه چي مجاهدین باید د غیر منظمو او ټیټو پرکو عملیاتو پر ځای په هر ولایت او سیمه کي د دښمن پر پوځي تاسیساتو او پوستو باندی په یو وخت عملیات سرته ورسوي ، مثلاً که مجاهدین په قلات حمله کوي نو په قندهار او شینډنډ کي دی نور مجاهدین په هوایی دګرونو بریدونه کوي چي د دښمن الوتکی پر زابل کي پر مجاهدینو بمباری ونکړای شی او که ځمکنۍ قواوي ورته د مرستی لپاره راځی نو باید په لاره کي دي ځاي په ځاي د هغوي پر قطارونو حملی وشی . او دا منظم او پر یو وخت عملیات اوس مجاهدین د

مخابراتی ارتباط له مخی کولای شي.

حقانی صاحب وویل :

ددغه شورا یو بل عملی اقدام د مجاهدینو د اکمالاتو له لارونه تنظیمو نو له خوا دجوړوشویو پاټکونو او نورو خندونو لري کول دی.

حقانی صاحب د خپلو خبرو په پاي کي وویل چي د جهاد دقوماندانانو د شورا لوبه سرا سري غونډه به دراتلونکي کال په بسرلي کي کیږي چي په هغي کي به داوسنیو پریکړو دعملي کیدو ربوټ واوروول شي او نوري لازمي فیصلي به وشي .

وروسته بیا قوماندان انورخان د قوماندانانو دشوري ګډه اعلامیه ولوستله او دهغي انګلیسي متن په بهر نیوژورنالستانو وویشل شو.ددغي اعلامیي دوه عمده او مهم ټکي دادي:

لومړي دیوي واحدي استراتیژي جوړول چي دهغي له مخي به ټول

تېنګه شوه

مجاهدین افغانستان کي په یو وخت عملیات وکړي.

دوهم داچي ټول هیواد دي په زونونو اوحو زو وویشل شی او په هر زون کي دي یو باصلاحیته شخص وټاکل شي، چي داکاربه د عالمانو قوماندانانو او قومي مشرانو له خواسرته رسیږي .وروسته بیا ژورنالستانو خپلي پوښتني مطرح کړي چي په مقابل کي د جهاد د بیلو بیلو قوماندانانوله خوا ځوابونه ورکړل شول .دیو ښښتو په لړ کي یوه پوښتنه داسي مطرح شوه چي د جهاد دقوماندانانو دشوري غونډي یوه په بلي پسي ډیرنا وخته کیږي آیا دا کار د جهاد ګړندیتوب ته صدمه نه رسوي؟

محترم حقاني صاحب په ځواب کي وویل:داسي نه ده چي د دوه غونډو په مینځ کي دي جهاد په ټپه دریدلي وي ،بلکه دهري غونډي په نتیجه کي د مجاهدینو فعالیتونه لاپسی منظم او منسجم کیږي . بله پو ښتنه داسي رامخي ته شوه چي آیا داسمه وه چي د مجاهدینو قوماندانانو په کابل باندي دیوي ګډي حملي پلان جوړکړي دي؟

حقاني صاحب وویل: دقوماندانانو دشوري په دغه غونډه کې به دي خبره او بحث وشو چي په اوسني وخت کي پر کابل باندي دمجاهدینو عمومي عملیات او حمله مناسب کاردي که نه؟

قطع نظر لدي نه چي د حکمتیار صاحب پروګرام دی که د بل چا ،موږ په عمومیاتو خبري وکړي او عمومي صورت حال موتربحث لا ندي ونیو.

د پوره غور بحث څخه وروسته دي نتیجي ته ورسیدو چي په اوس وخت کي چي د یوځوا ژمي او دیخني موسم راروان دي دبلي خوا هلته په کابل کي تقریباً دري ملیونه عام خلك او سیږي او د حملي په جریان کي هلته د هغوي پاتي کیدل مشکله خبره ده نو په اوس وخت کي قوماندانانو په کابل باندي دمجاهدینو د هرلړخیز فشار، وقفوي عملیات او محاصره مناسب کار وباله . پاتي شوه په کابل باندي د حکمتیار صاحب د حملي خبره،په شورا کي په هغي هیڅ بحث نه دي شوي ، ځکه چي نوموړي تراوسه پوري له قوماندانانو سره کومه مشوره او مفاهمه نه ده کړي، خو قوماندانان هغه له دي حملي څخه منع کوي هم نه.

حقاني صاحب د یوي بلي پوښتني د ځواب په ترڅ کي دي خبري ته اشاره وکړه چي د قوماندانانو په دوهمه شورا کي د حکمتیار صاحب داسلامي حزب قوماندانان حاضر وو او امید شته چي په راتلونکي غونډه کي به هم دهغه نمایندګان ګډون وکړي.

حقاني صاحب زیاته کړه چي له یوي خوا دي غونډي ته قوماندانان دحزبي ارتباط له مخي نه دي بلل شوي اوبله دا چي د مخابراتي وسایلو دنشتوالي له کبله له ټو لو جهادي قوماندانانو سره ارتباط نه دي ټینګ شوي .

محترم حقاني صاحب دیوي پوښتني په ځواب کي وویل چي : زه فکر نه کوم چي د پاکستان حکومت یا (آئی ، ایس ، آئي) دي په قوماندانانو فشار راوستي وي چي هغوي د کابل په عملیاتو کي ګډون وکړي .هغه وویل چي جهاد دافغانانو دی، په افغانستان کي چي هر عملیات کیږي هغه په د مجاهدینو په اراده او تصمیم سر ته رسیږي هیڅکله داسي نشي کیداي چي یو بهرني هیواددي به دغه برخه کي په مجاهدو افغانانو کوم فشار راولي.

ځرنګه چي له یوی خوا ژمی او د یخنی موسم راروان دی او له بلی خوا په کابل کي تقریباً دری میلونه خلك اوسیږی او د حملې په جریان کي د هغوی ربړې مونږ. له نظره نشو غورځولی ځکه خو قوماندانانو پر کابل هر اړخیز فشار- وقفوی عملیات او محاصره مناسب کار وباله

د یوی واحدی ستراتیژی جوړول د قوماندانانو ستر هدف دی،چي د هغی له مخی مجاهدین په ټول افغانستان کي په یوه وخت متحد عملیات ترسره کړی.

دشهید فیصل دریغ : د غرب په وړاندې ...

درس وچی اسلامی امت ته یی ورکړ.

بل خوا، فیصل شهید چی څومره د غرب د سترګوا غزی ؤ. هسغو مره چی لا زیات د شرق یا په بله وینا د سوسیالیزم د علمبردارانو د سرغلیم هم ؤ.

لکه چی ویل کیږی له سوسیالیزم څخه د نوموړی د کر کی یو علت دا هم چی هغه یی د ترڅاو په تیره بیا د اسلامی امت په وړاندی د یهودانو یو کرغیړن سازش باله. او ځکه خو یی په هره بیه د هغه مخنیوی خپل مسؤلیت ګاڼه. په دی لار کی چی نوموړی عملاً څومره څه کړی، سړی یی تصور قدر له هم نشی کولای.

فیصل شهید د اسلام یو داسی مخلص او سرتیرسپاهی ؤ چی د اسلام بول بالا کول یی خپل وروستنی هدف ټاکلی و. په دی باب به یی د هیڅچا پروا هم نه کوله. که هغه به په ظاهر هرڅومره ستر مقام او ځواک هم و.

مشهوره ده، یو ځل چی هانری کسینجر سعودی عربستان ته په سفر راته، د غلته د امریکا سفیر (؟) پوه کړ چی له یوه داسی چا سره بی مخه ده چی یهودیت یی ډیر بدی راځی، نو دی باید له فیصل شهید سره د ملاقات پر وخت دی ټکی ته ګیر واوسی. له کسینجر سره ملګری خبریال یی بیا کیسه کوی چی د سفیر خبره رښتیا وه. فیصل شهید کسینجر ته له لاس وړکولو سره سم ورته وویل: «پردی چی ته د امریکا د بهرینیو چارو وزیر یی ، دا درسره منم. خو په رسمی چوکاټ کی له غږیدا زیاته ته توقع به راته نه کوی.» او تر ټولو مهم دا چی پر قدس شریف، د ننګ په لار کی یی ځان قربان کړ، او برخپل شهادت یی د سعودی حکومت له پاره قدر او منزلت وګاټه.

په همدی توګه تر فیصل شهید راوروسته واکمنو خو یی چی بیا زموږ له انقلاب سره کومه ډاګیزه مرسته وکړه، هغی دا ښه ترا په ډاګه کړه چی سعودی حکومت په ریښتیا د اسلام او مسلمانانو یو خوا خوږی او همدرد حکومت دی.

د بده شامته، د سعودی حکومت دغه ګرانښت او حیثیت وروستو جریاناتو تر ډیره حده سبوتاژ کړ، دغلته د بهرنیو پوځونو موجودیت یی د چا خبره دعمر خواری د پوښتني وړوګر- ځوله او ځان یی د دی وینا مصداق کړ چی: «چا پپو؟ خپل حان پپو».

****

مرګ له یوه ژوند څخه بل ژوند ته تیر یدل دی . مرګ په حقیقت کی یوه دروازه ده چی ددی نړۍاو هغه بلی دنیا په منځ کی ایښودل شویده ؛

****

امید او ا سره دژوندانه ډیره ګټوره اوښه پانګه ده . که د ټولې نړۍ شته زموږ وی نو څه فایده چی پخپل روح کی دبلی نړۍ امید ونلرو.

****

بخاطر مداخله درامور افغانستان :

گورباچوف مستحق جایزه نوبل نبود

بخاطر مداخلد درامورافغانستان : گرباچف مستحق جایزد نوبل نبود از جهت وضع کنونی افغانستان و بررسی اعمال روسها درآنکشور مـا فکر نمی کنیم کد گرباچف مستحق جایزه نوبل باشد.

این مطلب را معاون یکی از دو کمیتد همبستگی ناروی با افغانستان در اوسلو مرکز آنکشور در رابطد به اعطای جایزد نوبل بد گرباچف ابراز نمودد افزود. دریـن رابطد دلیل و برهان ماینست کد تا کنون روسها بد حکومت کابل سلاح میدهند وباین ترتیب آن رژیم را برقدرت نگهداشتد اند. موصوف افزوده است:بد نظرما گرباچف زمانی مستحق جایزد نوبل میباشد کد روسها تمام فعالیت های ناجایز شان را در افغانستان به پایان رسانند وبرای حل مسالد افغانستان یك راد حل مناسب دریافت دارد.

معاون همبستگی باافغانستان درین مصاحبد علاود داشتد است لازم بود در اعطای جایزد مذکور برعلاود اروپا اوضاع افغانستان واریتریا را، نیز مدنظرمیبود کد در آنجا هاروس مداخلد می نمایند.

موصوف در پاسخ باین پرسش کد روسها مليونهامابن را در افغانستان بجا گذاشتد اند آیاتفویض این جایزد کدام فشار در رابطد باین ماین ها بر گرباچف واردخواهد ساخت گفت:امید است با دریافت این جایزه گرباچف مسئوولیت بیشتری را در اعادد صلح احساس نماید.

باید گفت کد در ناروی دوکمیتد صلح موجودبودد وطی چندین کنفرانس ضد روسی صدائي مردم افغانستان رابد جهانیان رسانیده اند.

ایران او عراق خپل دیپلوماتیك روابط له سره پیل کړل

تهران دتلی (۲۸):

نړیوالو خبری سرچینو رپوټ ورکړی چی ایران او عراق خپل دیپلوماتیك روابط د سره پیل کړل او په خپلو پایتختونو کې یې سفارتخانې پرانستلی.

رپوټ زیاتد کړی :دا اعلان دایران او عراق د لوړ رتبه مقاماتو دخلور ورځنی خبرو اترو وروستد وشو د ایران او عراق روابط د دواړو هیوادونو منځ د نښتی وروستدخراب شوی وو او پرکویټ د عراق حملی شرایطو تد تغییر ورکړاو عراق ئی دی تد چمتو کړ دایران غوښتنی ومنی.

مؤسس: الحاج مولانا جلال الدین حقانی

دهئیت تحریر تر نظر لاندې

مسوول مدیر
الحاج عبدالباري ننگیال

مرستیال
سید محی الدین هاشمی

مکاتباتی پته
پوسټ بکس نمبر (۱۰۳۳)
پوهنتون ټاون، پیښور

دبابری جومات مسئله دی له قانونی لارو حل شی

نوی دهلی دتلی ۲۶:

باخبرو خبری سرچینو رپوټ ورکړی چی په نوی دهلی کی دهند تولو گوندونو استازو د"وی،پی،سنگ په مشری غونډه وکړه او په ترڅ کی یې پدی مسئلې باندی توافق وکړ چی د بابری جومات او د هندوانو د درمسال (عبادتځای)مسئله دی په مسالمت آمیز د قضاء کی دقانونی لاری حل شی.

رپوټ زیاتد کړی: پد دی غونډه کی دزیات شمیر وزیرانو سربیره دشال گوندونو استازو گدون کړی وو خو ویل کیږی چی د"کانگریس" او "جنتادل" گوند استازو پد کی گدون ند وو کړی.

خبر پد پای کی لیکی :فیصلی کی له حلکوځخد غوښتل شوی چی پد کړ کیچ لاس پوری نکړی. او د قانون ځخد سر غړونه ونکړی.

د المان د کورنیو چارو وزیر وویشتل شو

المان د تلی (۲۸):

د المان د کورنیو چارو وزیر د یوی انتخاباتی غونډی پد دوران کی وویشتل شو.

د نوموړی سیمی ځخد دنړیوالو خبری آژانسو رپوټ ورکړی چی پولیسو یو مجرم نیولی چی د دوی پد وینا روانی ناروغی لری او د نشی موادو پد خرځولو کی لاس لر ی.

رپوټ پد پای کی لیکی: نوموړی وزیر د هیلموتکل د بردی اتحـ یوالانو ځنی وو او د دواړو المانونو د یوالی پد خبر وکی یې عمده نقش درلود.

نومیالی ادیب ، شاعر او لیکوال سید رسول رسا وفات شو

پیښورد میزان ۲۲:

پد دیری خواشینی سره موجب واخیست چی دپښتو ژبی نومیالی لیکوال،ادیب او شاعر میاسیدرسول رسا دهغی اوږدی ناروغی لـد املد چې وپیښد شوی ود وفات شو.

اناللد واناالید راجعون

نوموړی ۱۹۱۰ع کال د پیښوردنوښار د بدرشو پد کلي کی زیږیدلی وو. لومړنی زده کړی یي پخپلد سیمه کی وکړه او بیایی پد اسلامید کالج کی خپلد زدهکړه پای تد ورسوله. دزدهکړی لد هماغد لومړیو وختونو ځخد یي لد ادب سرد مینه درلوده پد کالج کی د زده کړی پد وخت کی د اسلامید کالج د نشراتی ارگان "خیبر میگزین" مدیر وو. او ددی تر څنگ د"بزم ادب پښتو" او د نوښار د ادبی جرگی غړی هم ؤ.

سرد له دي چی اروانباد سید رسول رسا د سائنس پد څانگه کی زدد کړه کړی وه خو پد ادبیاتو،فلسفد او تصوف کی یي دومرد زورد مطالعد درلودد چی پتد یې دهغد لد لیکلو اثارو ځخد لگیدلی شی.دلتد دهغد د آثارو لد جملی ځخد ادبی تنقید باغ راغ ،شمیر ،مامونی ،مغرور، د ژوند دوزخ ،د قرآن پیغام ،نوی ترنگ او د بیدیا گلو ته په یادونه اکتفاء کـووو.

موږ پد داسې حال کی چی د رسا صاحب مړیده پښتو ادب تد لویه ضایع گڼو اروانبادته دلوی خدای (ج) پد دربارکی د بخښنی اومغفرت دعاکوو د مرحوم خپلوانو ،دوستانو او خواخوږو تدرجمیل صبر غوښتنه کـووو.

د ډاکې پوهنتون وتړل شو

ډاکه،دتلی (۲۸):

باخبرو خبري سرچینو رپوټ ورکړ چی د بنگله دیش حکومت دزدهکوونکو د تندو مظاهرو او احتجاجونو وروستد پد ډاکه کی د هغه هیوا د پوهنتون او نوری تعلیمي مؤسسی وتړلی

رپوټ زیاتوی: دبنگله دیش حکومت ددی احتجاجونو تور د حکومت پر مخالفو گوندونو باندی لگولی.

پد رپوټ کی راغلی :دبنگله دیش یو ویندوی ویلی چی دحکومت مخالف گوندونه زدد کونکی د خپلو بی ځاید غوښتنو پد خاطر استعمالوی.

رپوټ پد پای کی لیکی:ددی ناآرامیو لد املد تر اوسد شپږو تنو حیل ژوند دلاسد ورکړی دی.

د مجاهدینو ...

تجدید دیوی گډی نظامی استراتیژی او د یوی واحدقوماندی درلودلومسئلد وه.دمجاهدینو خبری سرچینو زیاتد کړی امیدکیږی دعبوری حکومت پد نوی تشکیلاتو کی د حزب اسلامی، د ایران د(۹)گوندونوائتلاف او ځینو نورو وړو ډلو تد مناسبی چوکی ورکړی شی.

د مجاهدینو دسرچینی رپوټ پدپای کی لیکلی چی د مجاهدینو د گوندونو مشرانو او پد جهادکی مطرحو قوماندانانو د خوورځنی خبرو اترو وروستد فیصلد کړی چی پر کابل باندی عمومی عملیات د څد مودی لپارد وځنډوی او اوس د دوی ټول سع د یوی واحدی قوماندې گډ ی استراتیژی او د عبوری حکومت د تشکیلاتو د تجدیدپد باب خبري روانی دی.

دیادولو وړدد چی پر کابل باندی د مجاهدینو دپری کنده عملیاتو گوتگمی پد نوبحانه کی دجهادقوماندانانو شورا او اوس دمجاهدینو د مشرانو او دجهاددمطرحو قوماندانانو ترمنځ خبرواتروا وس یووارییاددی امیدونه پیداکړی چی مجاهدین به اوس یو ځل بیادگډی اداری اوواحدجهادی قادتیر مسئلی سرهمتفق شی او پدی توگد بد دیرژروتوانیدلی شی چی د کابل رژیم راسکورکړی.

د مصر پارلمان ...

اعلان کړی وو سرتد ورسیدل.

رپوټ زیاتد کړی حسنی مبارك د پارلمان د انحلال مصوبه منظور کړی او د نویو انتخاباتو اعلانئی کړی چی پد دو دورو کی (قوس پد اوومد او پنځلسمد) بد سرتد ورسیږی.

رپوټ پد پای کی لیکی:پد دی توگد بد نوی پارلمان دقوس پد پنځلسمد خپل کار پیل کړی.

په مصر کي (۱۵۲۰) تنه د پارلمان د ویندوی د وژلو په تور ونیول شو

قاهرد د تلی (۲۷):

د مصر یود ویندوی ویلی چی (۱۵۲۰) تند ئي د پارلمان د، ویندوی (المهجوب)د وژلو پد تور نیولی دی.

د مصر خبری آژانس ویلی د امنیتی مقاماتو رپوټونه داسی ښیی چی نوموړی حمله د بهرنیو پد لاس وهند سرتد رسیدلی.

د مصر د پارلمان ویندوی څو ورځی وړاندی ووژل شو.

د مشل عون ...

پد ترځ کی یې(٤٦٠) تند شامی پوځیان ووژلی شول پراعدام محکوم شول ویل کیږی: د"هراوی طرفدارو پوځیانو د عیسایانو پد سیمی کی امنیتی تدابیرزیاتد کړی.

فتح یازده پوسته ...

(۲۸۵)میل سلاح یك تانگ وسد موتر نظامی را نیز بد غنیمت گرفته انـد.

در خبر علاود شدد است که طی این عملیات بیست وششمجاهد شهید و شصت ویك تن دیگر مجروح شدد اند.

د زابل د مرکز ...

مخی لد تیرو شلو ورځواهیسی پر زابل د مجاهدینو درانه عملیا ت دوام لری.

مجاهدینو په هغه حملد کی چی پد یود نظامی کاروان یی وکړه لس تانگوند یی پد غنیمت ونیول او یو هلیکوپتر او څوجنگی نقلیه وسیلی یی لد منځد وړی دی.

سه پوسته رژیم کابل فتح گردید

مجاهدین بروز ۱۸ میزان تحت فرماندهی قوماندان سلطان محمد بالای پوسته های امنیتی سرک عمومی ولسوالی قرغه نی ولایت لغمان عملیات نمودندکه درنتیجهٔ آن سه پوستهٔ نظامی رژیم کابل فتح و ۹ملیشه کشته شده و ۲۲تن دیگر زنده اسیر مجاهدین گردیدند.

خبرعلاوه میکندکه دراین برخوردیک میل پیکا ،یک دستگاه مخابره آر ۱۰۵ به غنیمت مجاهدین درآمد.

به اساس یک گزارش دیگر به روز ۱۹ میزان ضبارات رژیم کابل بمباردمان سدیدی را بالای مواضع مجاهدین انجام دادند.

په خوست کي د ...

دگر هم د لری ویشتونکو توغندیو تر برید لاندی ونیوه چی پد ترځ کی ددښمن یوه باروونکی الوتکه لد منځد یوړل شوه او دښمن تد نور زیات ځانی او مالی تلفات ور اوښتل.

خبر په پای کی لیکی : او س هم ددښمن پر پوستود مجاهدینو عملیات جریان لری.